محب‌الله زغم
۲۰۲۳/۰۷/۱۸

# د ترکيې يوه ګټوره تجربه

په ترکيه کې هر ډاکتر چې تخصص اخلي، مجبور دی يو يا دوه کاله د ملک په ډېرو لرې پرتو سيمو کې خدمت وکړي، که نه په ښارونو کې د کار کولو اجازه نه ورکول کېږي. البته د ترکيې دولت دغو ډاکترانو ته اضافي امتيازات هم ورکوي او خوار يې نه پرېږدي.

موږ هم له دې تجربې استفاده کولای شو. اوس زموږ ټول متخصص ډاکتران په لويو ښارونو کې دېره دي خو په ولسواليو کې څوک نه لرو. زموږ ډاکتران چې د ملت په پيسو پوهنتون کې سبق وايي او په دولتي روغتونونو کې تخصص اخلي، دا د ولس ورباندې حق دی چې بايد ورته خدمت وکړي خو دوی همدا چې يو څه يې زده کړل، شخصي کار و بار پيلوي او څنګه چې په ولسواليو کې د ژوند شرايط ښه نه دي، ټول په لويو ښارونو کې پاتې کېږي.

زموږ د روغتيا وزارت د فاطمي په وخت کې دې ته ورته پروګرام درلود خو هغه داسې چې له پوهنتونه نوي فارغ شوي ډاکتران به يې اطرافو ته لېږل او د تخصص په پروګرام کې د شموليت لپاره يو شرط همدا و چې په نورو ولايتونو او ولسواليو کې دې درې کاله تېر کړي. د دې پروګرام عيب دا دی چې نوي فارغ شوي ډاکتران کلينيکي تجربه نه لري. د طب پوهنځي سړي ته يوازې د طبابت الفبا ورزده کوي او ښو پورې چې ډاکتر په يوه روغتون کې عملي تجربه حاصله نه کړي، هغه د چا خبره «نيمچه ملا دشمن ايمان، نيمچه طبيب دشمن جان» وي.

خدای خبر چې زموږ څومره وطنوال ډاکتر ته تر رسېدو مخکې ساه ورکوي. داسې ولسوالۍ مو ډېرې دي چې ښارونو ته لاره نه لري او په غرونو کې ايسارې دي. مخصوصاً په ژمي کې خو تګ راتګ بيخي سخت وي نو که دولت د ترکيې په شان پروګرام په پام کې ونيسي، ډېرو خلکو ته به خدمت شوی وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ